


# د ولز لپاره درسي نصاب

## د 3 او 4 کلنو ماشومانو لپاره د نرسرۍ زده کړې

## د والدینو او پاملرونکو لپاره یو لارښود

# د مطالبو لړلیک

د نرسرۍ زده کړې څه شی دي؟ 3
زما ماشوم به څه وخت د نرسرۍ له زده کړو څخه برخمن شي؟ 4
د نرسرۍ زده کړې څه ډول وړاندې کېږي؟ 5
زما د ماشوم لپاره د نرسرۍ د زده کړو ګټې څه شی دی؟ 6
د لوبې له لارې زده کړې ترسره کول څه شی دي؟ 7
آیا زما ماشوم به لوستل او لیکل زده کړي؟ 8
زه څه ډول کولای شم چې د نرسرۍ د زده کړو یو ځای ومومم؟ 9
زما د ماشوم اړتیاوې او پرمختګ به څه ډول و ارزول شي؟ 10
چېرته زه کولای شم د خپل ماشوم لپاره د لاسرسي وړ ملاتړ په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړم؟ 11

Crown copyright 2024, Welsh Government, WG50158, Digital ISBN 978-1-83625-236-8 © OGL
Mae’r ddogfen hon ar gael yn Gymraeg hefyd / Welsh دا سند په
ولزي ژبه د لاسرسي وړ ده / موږ په ولزي ژبه باندې مکاتباتو او ټلیفوني اړیکو ته ښه راغلاست وایو Gymraeg Rydym yn croesawu gohebiaeth a galwadau ffôn yn.



# د نرسرۍ زده کړې څه شی دي؟

**د نرسرۍ زده کړې هغه وخت ترسره کېږي کله چې درې او څلور کلن ماشومان یا په ښوونځي یا د ماشوم د پاملرنې په ځایونو کې چې د سیمه ییزې ادارې لخوا یې مالي ملاتړ ترسره کېږي د نرسرۍ زده کړې ترلاسه کوي او دا زده کړې اصلي زده کړو ته له شاملېدو مخکې ترسره کېږي.**

دا ستاسو د ماشوم په ژوند کې خورا مهم پړاو دی. دا د دوی د راتلونکو زده کړو او فزیکي او عاطفي ودې لپاره د یوې ودانۍ د بلوکونو په څېر تهداب ایږدي. همدا لامل دی چې د نرسري زده کړې په ولز کې د تعلیمي نصاب یوه برخه ګڼل کېږي.



**تاسو کولای شئ د خپلې سیمه ییزې ادارې په ویب سایټ کې د دې مادې په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړئ.**



# زما ماشوم به څه وخت د نرسرۍ له زده کړو څخه برخمن شي؟

سیمه ییزې ادارې باید د دوی لخوا د مالي ملاتړ ترسره کېدونکې نیمه وخت د نرسرۍ زده کړې (لږ تر لږه په اونۍ کې 10 ساعتونه) د درې او څلور کلونو ماشومانو ته د دوی د زیږېدو نېټې ته په پام سره د لاسرسي وړ وګرځوي. لاندې جدول په ګوته کوي چې څه وخت به ستاسو د ماشوم لپاره یو ځای د لاسرسي وړ وګرځي.

| د ماشوم د زیږېدو نېټه | زما ماشوم څه وخت کولای شي د مالي ملاتړ لرونکې د نرسرۍ د زده کړو ځای ترلاسه کړي؟ |
|---|---|
| **د سپټمبر له 1 د ډسمبر تر 31** | د سمستر پیل د جنورۍ په 1 نېټه یا له هغې وروسته |
| **د جنورۍ له 1 د مارچ تر 31** | د سمستر پیل د اپریل په 1 نېټه یا له هغې وروسته |
| **د اپریل له 1 د اګسټ تر 31** | د سمستر پیل د سپټمبر په 1 نېټه یا له هغې وروسته |

# د نرسرۍ زده کړې څه ډول وړاندې کېږي؟



**د ولز لپاره د درسي نصاب د يوې برخې په توګه، د ولز دولت يو لارښود خپور کړی دی تر څو له ښوونځيو څخه د دوی د درسي نصاب په وده ورکولو او د ماشوم د پاملرنې په ځايونو کې چې هلته د نرسرۍ زده کړې وړاندې کېږي، ملاتړ ترسره کړي.**

د ماشوم پرمختګ د ټولو چمتو کولو په مرکز کې دی او د ماشومانو په زده کړه او پرمختګ کې به ملاتړ وکړي، هغه که دوی ښوونځي ته ځي او که په مالي ملاتړ نه لرونکي وړکتون کې وي. د ولز لپاره درسي نصاب په داسې ډول ډيزاين شوی دی چې د ټولو زده کوونکو د هغو کسانو په ګډون چې د زده کړو په برخه کې اضافي اړتياوې جامع وي او د زده کړو په سفر کې د پرمختګ لباره دوی د اړتيا وړ ملاتړ ترلاسه کړئ.

همداراز دا ليدلوری له د ماشوم د پاملرنې له ځای څخه د ښوونځي چاپيريال ته په عادي ډول د ليږد پروسې ترسره کېدل هم ډاډمن کړي.

**د هغو ماشومانو لپاره چې د نرسرۍ په زده کړو کې ګډون کوي دا ويډيو وګورئ تر څو لا زيات معلومات ترلاسه کړئ:**

**د ولز لپاره درسي نصاب: د 3 او 4 کلنو ماشومانو لپاره د نرسرۍ زده کړې - د والدينو او پاملرونکو لپاره سريزه**



# زما د ماشوم لپاره د نرسرۍ د زده کړو ګټې څه شی دي؟

**د نرسرۍ د زده کړو په مرسته ماشومان کولای شي چې د کور د چاپیریال دننه او بهر د لوبو له لارې زده کړې ترسره کړي. دا درسي نصاب به له دې څخه د ډاډ ترلاسه کېدو لامل شي چې هر ماشوم د دې فرصت لري چې د خپلو زده کړو په مرکز کې وي.**

ستاسو د ماشوم د خوښې وړ موارد به په پام کې ونیول شي او دوی به وهڅول شي تر څو د خپلو زده کړو په اړه په داسې حال کې انتخابونه ترسره کړي چې له دوی څخه د ژمنو کار کوونکو لخوا ملاتړ ترسره کېږي. کار کوونکي به ستاسو له ماشوم څخه د دوی د زده کړو په هره مرحله کې ملاتړ وکړي. د زده کړو تجربې به عملي، په زړه پورې او د لوبې پر بنسټ وي. دا د زده کړو پر وړاندې مثبت لیدلوري ته د ودې ورکولو د لیدلوري په توګه پېژندل کېږي.



# د لوبې له لارې زده کړې ترسره کول څه شی دي؟

**لوبه د نړۍ پر وړاندې د ماشومانو د درک څرنګوالی ښیي. دا د زده کړو لپاره یوه پیاوړې وسیله ده چې د ماشومانو د خبرو اترو، ژبې او اړیکو او پر دې سربېره د ټولنیزو او فزیکي مهارتونو څخه له ملاتړ ترسره کولو سره مرسته کوي.**

ستاسو ماشوم به د جامع او معنی لرونکو زده کړو څخه برخمن شي چې د هغه له ودې څخه ملاتړ کوي. د لوبانو ملاتړ به په اغیزمن چاپیریال کې په زړه پورې تجربې برابرې کړي او د ماشومانو د پوهې او څارنې په کارولو سره به د ربښتیني تجربو پلان جوړ کړي چې ستاسو د ماشوم د په زړه پورو مواردو سره اړوند وي او د لوبو پر بنسټ به د دوی پرمختګ ملاتړ هم وکړي.

د لوبې په مرسته ماشومانو کولای شي چې له خپل نوښت څخه کار واخلي، خطر ومني او د ناکامېدو څخه له ډار پرته د آزماېښت او تیروتنو څخه زده کړه وکړي. د لوبو ګڼ شمېر ډولونه شته دي چې ستاسو ماشوم به پکې ښکیل وي چې کیدای شي په هغوی کې د رول ترسره کول، نوښتیزه لوبه، پلټنیزه او تخیلي لوبه شامله وي.



# آیا زما ماشوم به لوستل او لیکل زده کړي؟

**د نرسرۍ زده کړې د ښه اړیکو په مهارتونو باندې ټینګار کوي.  ستاسو ماشوم به وهڅول شي چې په ښوونځي او نورو ځایونو کې له لویانو او په خپلو مینځو کې د تعاملاتو له لارې خپل د خبرو کولو او اورېدولو مهارتونو ته وده وکړي.**

دوی ته به خوندورې کیسې او کتابونه معرفي شي او په سندرو، قافیو او د کلمو په واسطه د لوبو په ترسره کولو کې به ښکیل شي. دوی به وهڅول شي چې چې د نظریاتو او فکرونو د لیږد لپاره د په نښه کولو او رسامۍ څخه کار واخلي. دوی به په پراخه کچه سرچینو ته لاسرسی ولري تر څو په بېلابېلو سطحو کې لکه د لوبو په میدان کې د کچ، په پاڼه باندې د رنګ، بورسونو او مارکرونو کارولو ته لاسرسی ولري.

لکه څرنګه چې ماشومان خپل د لوستلو او لیکلو لومړنیو مهارتونو ته وده ورکوي،ک یدای شي دوی خپل نوم، تورو او عددونو ته پام شي. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې ماشومان دې نښو جوړولو او په اړه یې خبرې کولو کې باوري وي او دوی دې له هغه څه پیل وکړي چې د دوی لپاره مهمې نښې او توري ووینې.




# زه څه ډول کولای شم چې د نرسرۍ د زده کړو یو ځای وموم؟

**تاسو کولای شئ د خپلې سیمه ییزې ادارې د کورنیو د معلوماتو خدمت سره اړیکه ونیسئ، چې دوی کولای شي تاسو ته ستاسو په سیمه کې د ماشوم د پاملرنې د ځایونو او ښوونځیو په اړه معلومات درکړي چې د نیمه وخت لپاره د نرسري زده کړې وړاندې کوي.**

د نرسري د زده کړو لپاره د مناسب ځای د ټاکلو لپاره دلته یو شمېر لارښوونې ذکر شوې دي:

- د ماشوم د پاملرنې ځای یا ښوونځي ته ولاړ شئ - له دوی څخه ګڼ شمېر یې د هر چا لپاره د ورتګ په موخه پرانیستې ورځې لري
- د Estyn د پلټنې وروستي راپورونه د **www.estyn.gov.wales** پېټې له لارې ولولئ.
- د لومړنیو کلونو د زده کړو د ادارو ویب سایټونو ته په لاندې برخه کې مراجعه وکړئ تر څو د هغو ځایونو په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړئ چې دوی یې ملاتړ ترسره کوي
- په ولز کې د لومړنیو کلونو زده کړې **www.earlyyears.wales/en**
- Mudiad Meithrin **www.meithrin.cymru**
- د نرسري زده کړو د ملي ورځې ټولنه **www.ndna.org.uk**
- PACEY (د ماشوم د پاملرنې او لومړنیو کلونو د زده کړو لپاره مسلکي ټولنه) **www.pacey.org.uk**

# زما د ماشوم اړتیاوې او پرمختګ به څه ډول و ارزول شي؟




**ارزونه له هر ماشوم څخه د دوی په ځانګړي سره کې د ودې څخه د ملاتړ په برخه کې يو مهم رول ترسره کوي او ډاډ ترلاسه کوي چې د اړتيا په صورت کې ملاتړ ترسره کوي او ن ننګول کېږي.**

د ارزونې موخې دا دي تر څو وومي چې ستاسو ماشوم څه شی ترسره کولای شي. دا ارزونه به د مهارت لرونکو پاملرونکو لخوا چې ستاسو ماشوم د لوبې پر مهال څارنې ترسره شي. دوامداره ارزونه ستاسو د ماشوم د عمومي ودې په اړه لا زيات درک وړاندې کوي چې په هغې کې د خبرو اترو، ژبې او اړيکو او پر دې سربېره ټولنيز او فزيکي مهارتونه شامل دي. ښه کيفيت لرونکې ارزونه بايد هغه ماشومان په ګوته کړي چې کيدای شي اضافي ملاتړ ته اړتيا ولري او يا د باالقوه ظرفيت ته د دوی د رسېدو لپاره دوی وننګوي.

دا ډېره اړينه ده چې پوه شي چې دا پرمختګ د هر ماشوم لپاره ځانګړی دی. تاسو به په نرسري زده کړو کې د خپل ماشوم د ودې اړوند معلومات ترلاسه کړئ.  د ارزونې په اړه لا زيات معلومات به د ښوونځي يا د ماشوم د پاملرنې دهغو ځايونو لخوا د لاسرسي وړ وي چې تاسو د خپل ماشوم لپاره انتخاب کړي دي.

# چېرته زه کولای شم د خپل ماشوم لپاره د لاسرسي وړ ملاتړ په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړم؟

**موږ غواړو چې تاسو ډاډ درکړل شي چې ستاسو ماشوم په ژوند کې تر ټولو غوره ممکنه پیل لري.**

د ویلز د ماشومانو د پاملرنې وړاندیز د ویلز اوسیدونکو د درې او څلورو کلنو ماشومانو د والدینو او سرپرستانو لپاره تر 30 ساعتونو پورې د حکومت له لوري تمویلي شوې لومړنۍ زده کړه او د ماشومانو پاملرنه برابروي. دا له لږ تر لږه 10 ساعتونو لومړنۍ زده کړې او تر 20 ساعتونو پورې د تمویلي شوې ماشومانو پاملرنې څخه جوړه ده، خو دا په محلي چارواکو ته پام سره توپیر لري.

په شرایطو د برابرېدو لپاره والدین باید دنده ولري یا په عالي یا د لا زیاتو زده کړو په کورس کې وي.

د دې لپاره چې معلومه کړئ چې آیا تاسو یا ماشوم مو د ماشوم د پاملرنې د وړاندیز لپاره په شرایطو برابر یاستئ او که نه نو **-www.gov.wales/get-30-hours-childcare-3-and-4-year olds**پېتې ته مراجعه وکړئ.

**Teulu Cymru** په ولز کې د کورنیو لپاره په یوه ځای کې د ولز دولت معلومات راغونډوي. د عملي او مالي ملاتړ لپاره [www.gov.wales/teulu-cymru](www.gov.wales/teulu-cymru)ته مراجعه وکړئ او Teulu Cymru په فېسبوک او انسټاګرام کې وڅارئ.

د ولز دولت **"زما سره خبرې وکړئ"**پروګرام له لارې سرچینې او لارښوونه وړاندې کوي چې هغه تاسو هڅوي چې د خپل ماشوم له خبرو اترو، ژبې او ارتباطاتو څخه ملاتړ وکړئ.

**Flying Start** د ویلز په هغو سیمو کې چې Flying Start پروګرام لري، له محرومو سیمو څخه ماشومانو او کورنیو ته ملاتړ چمتو کوي. دوه تر درې کلنو پورې عمر لرونکي ماشومان په اونۍ کې 12.5 ساعتونو Flying Start پاملرنې ته حق لري، په کال کې 39 اونۍ، چې د ښوونځي له سمستر سره سمون لري. په شرایطو برابر ماشومان کولای شي چې د خپل زیږېدو له د دویم کال له سمستر څخه د د زیږېدو د دریم کال تر پای پورې د ماشوم د پاملرنې له ځایونو څخه کار واخلي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره تاسو باید د خپلې سیمه ییزې ادارې سره اړیکه ونیسئ.

د کورنۍ د معلوماتو خدمتونه (FIS) په **www.fis.wales**کې د زده کړو په ګډون په پراخه کچه د کورنیو موضوعاتو به اړه معلومت، سلا مشوره ا و وړیا لارښوونه په بې پرې او اپډیټ ډول وړاندې کوي.